د افغانستان اسلامي جمهوریت
د عامې روغتیا وزارت
د سرطان د کنټرول ملي پروګرام

# سرطان څه ډول ناروغي ده ؟

سرطان پر وړاندې مبارزه
مونږ کولای شو، زه کولای شم

CANCER CENTER
+93 - 79 - 444 - 7000
NCCP@MOPH.GOV.AF
MOPH.GOV.AF

## سرطان څه ډول ناروغي ده ؟

سرطان په بدن کې د حجراتو غیر نورمال، غیر ضروري او غیر قابل کنټرول ودې او پرمختګ ته ویل کیږي چې په سرطان کې حجرات له کنټروله بهر کیږي، سرطان کېدای شي د عضویت په هره برخه کې رامنځ ته شي، د بېلګې په توګه جلد (پوستکي)، هډوکي، عضلات، وینه یا لمفاوي برخو کې، همدارنګه کېدای شي په هر عمر کې رامنځ ته شي خو واقعات یې د عمر په ډیریدو سره زیاتیږي.
سرطاني حجرات کېدای شي د وینې او یا هم لمفاوي غوټو له لارې د عضویت نورو برخو ته انتقال شي.






## د سرطان عوامل:

جنیتکي (ارثي ) عوامل: والدینو څخه ماشومانو ته د ناوروغۍ انتقال.
معافیتي عوامل: لکه د بدن معافیتي سیستم کمزوري کیدل .
درمل: هغه درمل چې معافیتي سیستم ته زیان رسوي او د معافیتي سیستم له منځه وړلو لامل کیږي.
کیمیاوي عوامل: الکول، ارسنیک، بنزین، سرب او داسې نور.
فزیکي عوامل: مبایل ټلیفون، التراوایلټ شعاع ( لمر)، ایکس شعاع او ګاما.
بیولوژیکي عوامل: ویروسونه او بکتریاګانې لکه د تورزیري ویروس، ایچ پایلوري مکروب، انساني پاپیلوما ویروس او داسې نور.
د ذکر شوي عوامل ترڅنګ ځینې نور خطري عوامل په سرطان د اخته کیدو چانس زیاتوي لکه چاغوالی، ورزش نه کول، د سګریټو څخه استفاده، د سبزیجاتو او میوه جاتو نه خوړل، دغوښې زیات استعمال، وچه شوې غوښه او کباب شوې غوښه، ډیر سره شوي خواړه، ډیر ګرم چای او داسي نورکولای شي د سرطان د رامنځ ته کیدو سبب شي.





## د سرطان ډولونه:

تراوسه پورې په نړۍ کې د سلو ډیر سرطانونه پیژندل شوي چې په افغانستان کې عام سرطانونه عبارت دي له سینې، معدې، مرۍ، سږو، خولې، وینې، رحم د غاړې، پوستکي، مثانې، او داسي نور.

د یادونې وړ ده چې د عضویت نوري برخې هم په سرطان اخته کیږي چې ډول ډول اعراض له ځانه سره لري او که هر څومره د سرطان ناروغۍ پر وخت تشخیص شي د ناروغ درملنه په ښه توګه ترسره کیږي.

## د سرطاني ناروغیو درملنې ډولونه:

لاندې درملنې په یواځې توګه او یا هم په ګډه سره ترسره کیدای شي:
جراحي درملنه: د هغو سرطاني تومورونو لپاره چې د پرمختګ په لومړني پړاو کې وي په بشپړه توګه د تومور لرې کولو لپاره جراحي درملنه ګټوره او چټکه لار ګڼل کیږي، په هغه صورت کې چې ناروغۍ خپره شوي نه وي.
کیمیاوي درملنه: په کیمیاوي درملنه کې د سرطان ضد قوي درمل چې د وینې جریان له لارې تطبیق کیږي، استفاده کیږي.
د پورته ذکر شویو درملنو سربیره د شعايي( وړانګو) درملنه، بیولوژیکي، هورموني او معافیتي درملنې هم کار اخیستل کیږي.
ولې بنیادي موضوع داده چې موږ داسې ډیر کارونه دي چې کولای شو په ترسره کولو سره یې په خپل وجود کې د سرطان رامنځ ته کېدو پیښې راکمې کړو او یا هم ترې مخنیوی وکړو د بېلګې په توګه:
شخصي عادات: سګریټ نه څکول، الکولو یا ګازداره مشروباتو له کارولو ډډه ، په منظمه توګه ورزش کول او داسې نور.
چاپېریالي عوامل: د لمر وړانګو ته ډیر نه پاتې کېدل، کیمیاوي مواد او ککړې هوا څخه ډډه کول او داسې نور.
خطرلرونکې دندې: د ایکس له وړانګو سره دوامداره تماس، اټومي وړانګې، صنعتي فابریکې او داسې نور.
همدارنګه سرطان د جسم ، روح او روان ناروغي ده د مثبتې روحیې موجودیت له ناروغ سره مرسته کوي ترڅو له سرطان سره مقابله وکړي او ژوند یې دوام پیدا کړي.